دهجان شهادت اسلامی ... باشد

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(۴) صفحه

نمبرمسلسل (۱۰۸۹) سال هژدهم شماره (۱۷۶) پنجشنبه (۱۰) حوت ۱۳۷۴ هـ. ش (۱۰) شوال المکرم ۱۴۱۶ هـ.ق (۲۹) فبروری ۱۹۹۶ م

دکهمرد په ولسوالی کی دنظار شوری یوه (۴۰) کسیزه ډله دهماهنګی شورا له ځواکونو سره یو ځای شوه

دقوماندان عالم خان ترمشري لاندي دغه وسله واله ډله په سپکواودرندو وسلو سمباله ده

بامیان – دکب ۹ مه : دنظارشوراپوقوماندان دخپلوافرادو سره دهماهنګي شورا دځواکونوسره یو ځـاي شو. دبامیانو له ولایت څخه دحزب یوي خبري منبع دمخابروي تماس پـه ترڅ کي تیره شپه شهادت ته وویل چي : پرون دبامیانو دولایت دکهمرد دولسوالي پـه مربوطاتوکي دقوماندان عالم خان په مشري دنظارشوراپوه (۴۰) کسیزه وسله واله ډله دهماهنګي شوراله ځواکونوسره یوځاي شوه .

دقوماندان عالم خان ترمشري لاندي دهماهنګي شوراله ځواکونو سره یوځاي شوي دغه وسله واله ډله چي په سپکو اودرندووسلوسمباله ده اوس ئي دهماهنګي شورا دځواکونوسره دکابل اداري دځواکونو پرضد ئي دجګړي لپاره هراړخیزچمتوالي نیولي دي .

الهی لارښوونی

په یقیني توګه د الله په نزد په ځمکه باندي ګرځیدونکي مخلوق کي ترټولوبدترهغه خلك دي چي د حق له منلو نه منکرشوي دي بیا په هیڅ وول دهغه منلوته حاضرنه دي . (په تیرښیا) له دوی نه هغه خلك چي له هغوسره تاړنه وکړه بیاهغوی په هروخت کي هغه ماتوی اوبیڅـرې له خدایه نه ویریږي .نوکـه دا خلك تاته په جګړه کي په لاس درشي نوداسي څه ورسره وکړه چي له هغو وروسته چي تورخوك د دغه راز کړ نچاري غوره کـوونکي وي هغوي حواس بایلي .

(الانفال ۵۵-۵۷)

تفاهم احتمالی میان حزب اسلامی وجمعیت اسلامی خبرخوش آیند میباشد

درصورت وقوع چنین توافقی ما ازآن استقبال خواهیم کرد

لاهور- ۹ حوت : قاضي حسین احمد رهبرجماعت اسلامي پاکستان ګزارش هاي توافق احتمالي میان حزب اسلامي وجمعیت اسلامي راخبرخوش آیند خوانده است . طبق ګزارش منابع خبري پاکستان وي که دریك جلسهٔ اززنان منعقده لاهورشرکت ورزیده بود درمصاحبه باخبرنګاران ګفته است که اګرتوافقي میان حزب اسلامي وجمعیت اسلامي صورت ګیرد ماازآن استقبال خواهیم کرد.

ص (۴)

درسال جاری نظامیان امریکایی غرض تمرینات مشترك نظامی (۹) مرتبه به پاکستان خواهند آمد

تمرینات کماندویی دراواسط امسال صورت خواهد ګرفت

اسلام آباد – ۹ حوت : درجریان سال جاري نظامیان امریکایي غرض انجام تمرینات مشترك نظامي (۹) مرتبه به پاکستان خواهند آمد .

طبق ګزارش منابع خبري پاکستان ازجمله جنګ ، این تمرینات درمناطق مختلف پاکستان صورت خواهدګرفت . فریدرك اورلهیلم نماینده نظامي امریکا درپاکستان درنظردارد هفته آینده پروګرام این تمرینات مشترك نظامي رابامقامات نظامي پاکستان مطرح وبه آن شکل وصورت نهایي بدهند .

یك دیپلومات عالي رتبه امریکایي ګفته است کـه تمرینات مشترك نظامي امریکاو پاکستان مخالـف ترمیم

ص (۴)

دحزب ویندوی استاد سعید له مهترلام نه :

دحزب اوکابل اداری ترمینځ دکلی موافقو آوازی دروغ دی

تراوسه هیڅ شفاهی یاتحریری معاهده نشته

دحزب دریځ هماغه دهماهنګی شوریٰ رسمی اعلان شوی دریځ دی

هرترون به دهماهنګی شوریٰ په سطحه کیږی

مهترلام – دکب ۹ مه : پرون مازدیګردحزب اسلامي رسمي ویندوي دارشاداوفرهنګ رئیس استاد قریب الرحمن وسعید، دلغمان دولایت له مرکز دمهترلام په ښارکي دحزب اسلامي دامارت له مقرنه دکابـل اداري سـره دحزب دمذاکراتو داوازوپه بـاب دحزب اسلامي رسمي دریځ داسي اعلان کړ.

بسم الله الرحمن الرحیم

حزب اسلامي افغانستان ټولي هغه اوازي چي دحزب اوکابل اداري ترمینځ دکلي توافقاتوپه باره کي خپري شوي

(۴)مخ

سیدسلیمان شاه سرقونسل کابل درګفتګوبا روزنامه پاکستانی :

مذاکرات حزب اسلامی وجمعیت اسلامی به خاطر استقرار صلح درافغانستان مژده، نیك است

پشاور - ۹حوت : آغازوادامه مذاکرات میان حزب اسلامي وجمعیت اسلامي غرض استقرارصلح وامنیت درافغانستان یك مژده نیك میباشد .

این مطلب را سید سلیمان شاه سرقونسل کابل درمصاحبه بایك روزنامه پاکستاني اظهارداشته است . وي ګفته

ص (۴)

باوجودګذشت ده سال معمای قتل صدراعظم سویدن حل نشد

ستاکهولم – ۹ حوت : رولف هالي صدراعظم اسبق سویدن درست ده سال قبل درسال ۱۹۸۶ زماني به قتل رسید که وي همراي همسرش ازیك سینما خارج مي شدولي ازآنزمان تاکنون همه تلاش هاوتفتیش هاېراي پیداکردن قاتل بي نتیجه مانده است وهانزآنلوبر ومسئول تیم تحقیقاتي ګفته است که

ص(۴)

دچهاردری په ولسوالی کی دکابل اداری یو قوماندان غلام محی الدین دخپلولسوکسانوسره دحزب اسلامی له ځواکونو سره یوځای شو

دغه وسله واله ډله په درندواوسپکووسلو سمباله وه

کندز – دکب ۹ مه : دکندز په ولایت کي دکابل اداري یومهم قوماندان له خپلو افرادوسره دحزب اسلامي له ځواکونوسره یوځاي شو. دکندزله ولایت څخه دحزب یوي خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ کي شهادت ته وویل چي: په دي وروستیو ورځوکي دکندزدولایت دچهاردري په ولسوالي کي دکابل اداري یومهم قوماندان غلام محي الدین له خپلو لسووسله والوکسانوسره په نومووړي ولسوالۍ کي دحـزب اسلامي

(۴)مخ

شهرکابل هدف حملات موشکی وانداخت سلاح های ثقیل قرارګرفت

کابل -۹ حوت . مناطق مسکـوني شهرکابل باردیګرهدف حمـلات موشکي وانداخت سلاح هاي ثقیل قرارګرفت .

طبق ګزارش منابـع خبري ایرا (۲۸) فیرموشك برمناطق مختلف کابل اصابت کرده که ازجمله (۱۵) راکـت برمناطق مسکوني غرب فرووریخته است .

در ګزارش این راکت باران (۴) نفرکشته و (۱۵) تن مجروح ذکرشده است.

منابع اداره کابـل مسئولیت این حملات رابه ګـروه طالبان نسبت داده اندوګفته اندکه راکت هاازاستقامت جنوب وجنوب غرب به شهرپرتاب شده است .

کمشنری مهاجرین افغان (۷۲۸) تن افراد خویش را ازکاربیکارکرده است

پشاور - ۹ حوت : کمـشنري مهاجرین افغان درپشاور به سلسله کاهـش دادن هاي تیلي به پرسونل خویش اخیراً (۷۲۸) تن ازپرسونل خویش راازکاربرکنارکرده است. طبق ګزارش منابع خبري ایران این اقدام حکومت پاکستان درروشني آن اقدام صورت میګیرد که حکومت پاکستان میخواهد تشکیل وپرسونل کمشنري مهاجرین افغـان رامحدود سازد حتي حکومت پاکستان قصد داشت که درماه

(۴)مخ

برطانیا از مطرح کردن حمله راکتی هند در فارورد کهوته درشورای امنیت خودداری کرد

هندوستان نباید عضو شورای امنیت ګردد

لاهور - ۹ حوت : وزیر خارجه برطانیه ګفته است که پاکستان وهند هردومیتوانند این مسئله رادرشوراي امنیت مطرح کنند. وي افزوده است که ناظرین سازمان ملل درآن منطقه وجوددارند وپطروس غالي سرمنشي سازمـان ملل متحد نیز ازاین مسئله آګاه دارد . بنا بران این کارهردوجانب است که بایددرشوراي امنیت مطرح نمایند .

همچنان طبق یك ګـزارش دیګر احمدکمال نماینده دایمي پاکستان درسازمان ملل ګفته است که کشوري که درتجاوزبه حقوق بشرازهیچ نوع کوتاهي دریغ نکرده است نباید به عضویت شوراي امنیت سازمان ملل پذیرفته شود.

ص(۴)

یك طیاره حامل نظامیان سودان سقوط کرد

خرطوم - ۹ حوت : یك طیاره ترانسپورتي سودان درجنوب آنکشورسقوط کرده است .طبق ګزارش منابع خبري بین المللي این طیاره شب سه شنبه ګذشته ده دقیقه بعدازپرواز سقوط کردو(۷۰) تن نظامیان سوداني معه عمله طیاره همه هلاك شدند .

درمورد سقوط طیاره تاحال چیزي ګفته نشده است اماشاهدان عیني که درمنطقه حضورداشته اند ګفته اند که طیاره مذکور به سبب مشتعل شدن آتش سقوط کرد .

دهند دیرغلګروعسکروسره په یوه نښته کی (۸) کشمیری مجاهدین شهیدان شول

له شپږوکالو راپه دی خوا دهند دیرغلګرو عسکرواوکشمیری مبارزینو په نښتو کی له (۲۰۰۰۰) څخه زیات کسان وژل شوی دی

سرینګر- دکب ۹ مه : دهندي عسکروسره دکشمیرمسلمانو مبارزینو په وروستیونښتوکي (۸) تنه کشمیري مجاهدین په شهادت رسیدلی دي.

دنړیوالو خبري منابعو په حواله ویل کیږي چي : پرون پـه نیول شوي کشمیرکي دهندي عسکرو اودکشمیر دمسلمانو مجاهدینوترمینځ (۱۲) ساعته سخته جګړه روانه وه . ددغي جګړي په ترڅ کي دهند پنځه تنه یرغلګرعسکر وژل شوي اوددووتنوملکي کسانوپه ګډون (۸) تنه کشمیري مجاهدین په شهادت رسیدلي دي .

دغه منابع زیـاتوي چي : له شپږوکالوراپه دي خـوا دهنددیرغلګرو عسکرو سره دکشمیري مسلمانانوپه نښتوکي څه دپاسه (۲۰۰۰۰) کسان وژل شوي دي .

دایران دبهرنیوچارو وزیر علی اکبرولایتی تاشکند ته رسیدلی دی

ولایتی دمشهد، سرف او تجند داورګاډی دپټلۍ د پرانستلو دمراسمو دترتیب په خاطر تاشکند ته تللی دی

تاشکند – دکب ۹ مه : دایران دبهرنیوچارو وزیرتاشکند ته رسیدلي دي . دنړیوالوخبري منابعوپه قول ویل کیږي چي: دایران دبهرنیوچارو وزیر علي اکبر ولایتي دیوه رسمي سفر په ترڅ کي دازبکستان دجمهوریت مرکز تاشکند ته رسیدلي دي .

ریوټرته زیاتوي چي : تاشکند ت دایران دبهرنیو چارو دوزیردي سفراصلي

(۴)مخ

ښي : پوتکرشوی موټردمسلمانو اوهندوضد فعالینو لخوا د چپه کیڼي ترڅو هغه یو ورځني اعتصاب تثریه کړی چی په ۱۹۹۳ کال کی دحکومت لخوا دهندو –مسلم پاڅون دټکولو پرضد جوړشوی ؤ . په دی اعتصاب کی دوکانونه تړلی اوترانسپورت بندوو.

دپاکستان دبشري حقونو رئیسي اسما جهانګیر وویل :

د ۱۹۹۵ کال په اوږدو کي دکراچي په ښار کي تقریبا (۲۰۰۰) کسان وژل شوي دي

اسلام آباد – دکب ۹ مه : په پاکستان کي بشري حقونه دوېرېدحالت سره مخامخ دي .

دنړیوالوخبري منابعوپه حواله ویل کیږي چي : پرون په اسلام آبادکي دپاکستان دبشري حقونو دکمیسیون رئیسي اسماجهانګیر دیومطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي وویل : د۱۹۹۵ کال په اوږدوکي دپاکستان دکراچي په ښارکي بشري حقونه ددي هیواد دتاریخ دوېرېدحالت سره مخامخ ؤ. په دغه ښارکي وضعه ډیره خرابه وه . دمذهبي،قومي ، نژادي اوسیاسي خصومتونو په وجه د۱۹۹۵ کال په اوږدوکي په کراچي کي تقریباً (۲۰۰۰) کسان وژل شوي دي .

اسماجهانګیر وویل : موټر پوهیږوچي قومي شخړي زیاتي شوي دي اودکراچي په ښارکي که څه هم وضعه په ظاهري شکل ارامه معلومیږي ، خوبرعکس په دغه ښارکي وضع بدتره شوي ده .

دکراچي "په ښارکي پرته له محکمي قتلونه شوي اوظلم زیات شوي دي . اودمحکمي پرته دقتلونو څخه مخنیوي هم نه کیږي .

دکراچي دښخړو په اړه هرلوري بل لوري دبشري حقونوپه تیري ملامتوي. اسماجهانګیرزیاته کړه : دهیواد رهبران اراده نه لري چي بشري حقونوته رسیده ګي وکړي.

اندونیزیا با اسرائیل روابط دیپلوماتیك برقرار نخواهد کرد

جاکارتا - ۹ حوت : اندونیزیا قصدندارد بااسرائیل روابط دیپلوماتیك وسیاسي برقرارکند.

این مطلب راعلي الاتاس وزیرخارجه اندونیزیا اظهارداشته است . وي ګفته است تازمانیکه تنازعه اعراب واسرائیل بصورت مسالمت آمیز حل وفصل نګردد استقرارصلح وامنیت درشرق میانه ناممکن خواهد بود.

نامبرده اظهارات بعضي ازمنابع راکه ګفته اندکه اندونیزیاقصدداردبااسرائیل روابط دیپلوماتیك برقرارکند ردکرده ګفته است که سفر تعدادي ازاندونیزیایي ها به بیت المقدس بخاطر زیارت مسجد اقصي بوده است کدام هدف خاص سیاسي درقبال نداشته است .

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشاد، فرهنگ
سرمحرر : محمد نذیره بشارت،
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲٥٦٣٧٨٩
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

مذاکرات ،احتیاط او نزاکتونه

داذهنیت اوس دیرعام شوي چي واقعاً زموږ دهیوادقضایاوردحل لارتفاهم ،مذاکرات، بوبل تـه نږدي کیدل، اودتولودقناعت، دټولو دحقوقو دتأمین ، اودټولولپاره دیوه شرافتمندانه اسـلامي ژوند دزمیني دبرابرېدو په روحیه او ښیت خبري اتري او موافقي دي.

ټولوولیده چي دجګړو لاري ناکامي شوي، دسـازش ، دسیسي ،په پردیوباندي داتکا، پــه بیلابیلوښتونودجنګي جبهه بندیو، رشـوت، د نوروډتخریب ، ضمیرونواوتعهدونو د خریدوفروش تجربي نامراده شوي .

دي لارو اوتجربونه کوم لوري ته ګټه وکړه ،نه ئي اسلام سرلوري کړ، نه يي کومه ستونزه اواره کړه ، نه ئي دهیواد دعمومي بحران داوارولو په خوا بومعمولي ګام واخیستلاي شواي ، نــه ئي دملت دهیڅ برخي اوهیواددهیڅ ګوټ کومه کرمه ورغوله .

ددي پرعکس پــه تیروتقریباً څلـورو کلونوکي دهري ورځي په تیریدوجګړه توندده شوه ، بی امنیتي زیاته شوه ، دفقر اوبي کوري فاجعه ، دمرګونواودریدریو فاجعه لامرګوني شوه ، پیچلتیاوي زیاتي شوي، پردي لاس وهني اوج ته ورسیدي، دیوه مضبوط مرکزي حکومت اوملي زعامت دتبارزچانسونه کمزوري شول .

په همدي وجه دتفاهم اومذاکراتو روش اولار ورځ په ورځ لامقبولیت پیداکوي، لادیوي بواځیني عملي لاري په توګه رامطرح کیږي ، اوځوك چي دالارغوره کوي، البته په صداقت اوجدي تیاري سره ، له معقولي طرحي اوپیشنهاد سره ، له عملي چمتوالي اومنطق سره ، هغوي په ملت کي محبوبیت ترلاسه کوي، اوداسي عناصرویه توګه یادیږي چي واقعاً دبحران حل غواړي، په منطق باورلري، اوله دي کفایت نه برخمن دي چي له یوي خبري اوپیغام سره دمذاکراتو میزته ولاړشي .

برعکس کوم عناصرچي هرراز مذاکرات نفي کوي ، دقضیي داواري لپاره هیڅ راز طرحه ورسره نشته ، دهغوي ددي چلن اوروش معنی دجګړي ادامه او دزوراعمال دي. دهغوي تګلارله دي پرته بل څه مفهوم درلوداي شي چي بایـد دمنطق اواستدلال په ځاي دګولیواوباروتو په ژبه خبري اوبریکړي وشي .

ددغه ډول سیاست اوتګلاري درلودونکي ، که هرڅوك وي، دهرنامه اوهرهویت خاوندان وي اوپه هرموقعیت کي وي، هغوي به دملت په ذهنیتونوکي خپل اعتبارله لاسه ورکوي، ولس ته به ئي له روش نه دوینو بوي ورځي په دریځ کي به ئي دمرګونواوبربادیو رنګ ګوري .

مګردابایدواضح شي چي مذاکرات اوتفاهم هغه وخت نتیجه لري، اوزغنده نقش ترسره کولاي شي چي بواځي دوخت دتیرولو لپاره نه وي ، ددوکي لپاره نه وي، ددي لپاره نه وي چي ځوك پکي بې له دي چي دملت خیرترلاسه کړي بواځي دخپلوګروپیکوګټهودترلاسه کولو هڅه وکړي.

دمذاکراتو هدف باید دهیواد دبحران اواري وي، په یوي داسي جامع طرحي باندي دموافقي حاصـلول وي چي ټول وربانـدي قانع شي اوهیڅوك دمحرومیت احساس ونکړي ، هیچاته دمخالفت پلمه پاتي نشي اوهیڅوك په جګړي باندي دلاس پوري کولوجرئت ونکړاي شي .

ترکومه چي په حزب اسلامي پوري اړه لري، هغه له چاسره پــه همدي نیت اوهمدي هدف مذاکراتو تـه کیني ، او دهمدي هدف لپاره دمذاکراتو دلاري په غوره کولو ټینګارکوي.

حزب به له هیچاسره نه بواځي داسي معاهدي ته نه داخلیږي چي په هغه کي ټوله هم آهنګي شوري شامله نه وي، بلکي ټولي هغه معاهدي چي دبحران ژرحل اوزموږدمظلوم ملت عاجله ژغورنه پکي نه وي تضمین شوي، دحزب دقیادت له خوامردودي دي.

نیاز اولیه ء جامعه ما !

محاکمهء مجرمین یا استقرار صلح ؟

حامد

پس ازآنکه شایعات وسپس اخبار مربوط به حصول توافق میان شورای هماهنگی وسران اداره، کابل توسط بعضی از « منابع معتبر » توثیق گردید.این سوال نیز توسط بعضی ازحلقات ودوستان مطرح گردید که «پس ازآنهمه جنگ ،ویرانی، تباهی وخونریزی، اینك برتوافق میان این دوجناح چه نتایج مثبتی مرتب خواهد گردید ؟»

عده ای دیگراین سوال را مطرح میسازند که چرا چنین توافقی سالهای قبل ،علی الخصوص در اوائل رویکارآورده شدن ائتلاف جبل السراج ، بین این دوجناح بوجود نیامد .

عده ای این تحول رابه دیده، شك وتردید نگریسته ومعتقدند که با درنظرداشت تجارب تلخ وموارد خونین گذشته که هرطرف دهها بارمعاهدات رانقض کرده است، اینك حصول توافق میان این دوجناح اصلاً ممکن نیست ، ودیرپازود، حتی درصورت تشکیل حکومت مشترك ، سران این دوجناح باری دیگر بروی هم شمشیر خواهند کشید.گروهی دیگر تا این حد پیش میروندکه این دوجناح را بحیثسران مسببین ومسئولین اصلی فاجعه، کنونی خوانده وخواستارمحاکمه، آنها گردیده اند.

یادآوری این نکته بی مناسبت نخواهدبودکه طوریکه همگان میدانیم مخالفین توافق بین دوجناح نامبرده درمقایسه باکسانی که ازوصول به این توافق استقبال بعمل آورده وآنرا بزرگترین گام درجهت نجات کشورازتراژیدی المناك کنونی تلقی میکند ، در اقلیت آشکار قراردارندکه بعضی ازآنان لله الحمدشهامت اذعان براین واقعیت رانیز دارند .

ماباعلم به اینکه مخالفین پروسه، حصول توافق میان شورای هماهنگی وسران اداره، کابل درمقایسه باموافقین آن دراقلیت قراردارند، به دیدگاههای فوق الذکر آنهااحترم میگذاریم . مادرصدد آن نیستم که برمخالفین بااین پروسه اتهامی وارد آورده آنهارامحکوم کنیم . ما، قطع نظراززمینه هاوانگیزه های این مخالفت ، درحقانیت دیدگاههای فوق الذکر ، مناقشه واحتجاج رامجازولی بی نتیجه می یابیم.

ما سعی نداریم که ازین واقعیت تلخ چشم بپوشیم . که جنگ میان این دوجناح ویرانیهاو خونریزیهایی را بوجود آورد که یادآوری آن بیشترازآنکه درد آورباشد، شرم آوراست .

ماانکاریافراموش نکرده ایم که میان این دوجناح جویباری از خون نه بلکه خلیجی ازخون وجود دارد. میدانیم که اختلاف بین این دوجناح چه فاجعه ای برای امت مسلمه . ملت مسلمان افغان وخود این جناحهابارآورده است . مابخاطرداریم که این دوجناح سالها باهم

ادامه، مخاصمت و جنگ بین این دوجناح علاوه براینکه درتضادکامل با مصالح علیای امت مسلمه ، افغانستان اسلامی وملت مسلمان افغان قراردارد، آنرا برای خود این جناحها نیز زهرمقاتل میدانیم .
گذشته ازین ، ما بابخش عظیمی ازملت مسلمان خرد ومطلعین امور افغانستان درین خصوص همنظر هستیم که این دوجناح هنوزهم درموقعیتی قراردارندکه ترك مخاصمت وحصول توافق میان آنها ، برتلاشهایی که به منظور نجات کشوروملت ما از تراژیدی کنونی بعمل میآید، اثرات تعیین کننده ای برجاخواهدگذارد .

اختلاف داشتندکه درنتیجه، همین اختلافات هزارهاانسان ازنعمت سرپناه، خانواده وحتی زندگی محروم گردانید، شدند. مابخاطر داریم که این دوجناح سالها باهم جنگیدند ودرجنگ علیه همدیگر پیشرفته ترین وسائل راباپیرحمانه ترین روشها بکاربردند.

این نکته رانیز همگان میدانیم که دراین اختلافات وجنگهاهیچ نتیجه، دلخواهی برای این یاآن طرف، مضمر نبوده است .

باتوجه به سابقه، تجارب تلخ ، خونین و بالخصوص ناکام گذشته است که ادامه، مخاصمت وجنگ بین این دوجناح علاوه براینکه درتضاد کامل بامصالح علیای امت مسلمه ، افغانستان اسلامی وملت مسلمان افغان قراردارد، آنرا برای خود این جناحها نیز زهرمقاتل میدانیم .

گذشته ازین ، ما بابخش عظیمی از ملت مسلمان خرد ومطلعین امور افغانستان درین خصوص همنظرهستیم که این دوجناح هنوز هم درموقعیتی قراردارند که ترك مخاصمت وحصول توافق میان آنها، برتلاشهایی که به منظور نجات کشوروملت ماازتراژیدی کنونی بعمل میآید، اثرات تعیین کننده ای برجاخواهدگذارد .

ماازجمله، همه، گروههای متحارب ودرگیر، بعضی ازگروههای متشکله، این دوجناح راعلی الرغم سابقه، دردناك وشرم آورفوق الذکر در روابط شان ، دارای بیشترین وجوه مشترك وطبیعیترین متحدین درهراقدامی درجهت نجات کشور وملت ازبحران حاکم می یابیم .

درمورد این دیدگاه مخالفین که چرا این توافق دیروز صورت نگرفت ، عرض مااینست که نه ماونه کشورمادرشرائطی قراردارد که فرصتی برای مطرح گردانیدن این گونه « چراها» باقی مانده باشد ویااینکه معقول به نظربرسد . عاجلترین وحیاتیترین فوریت ، ارجحیت واولویت امروز اینست که این ملت واین کشورراچگونه ازدام این مصیبت برهانیم.

مطرح گردانیدن این چراها، علی الخصوص در جریان مذاکرات جناحین، اگر به پیچیده ترشدن اوضاع وعریضتر شدن خلیج فی مابین آنها منجرنگردد، حداقل پیامد آن این خواهد بودکه به عمربحران چند روز دیگری نیز افزوده شود. بحرانی که میدانیم باگذشت هرروز ازدائره، مهار توسط افغانان بیرون میرود .

درمورد این تشویش دوستان که باتوجه به موارد مکرر نقض معاهدات توسط طرفین ، این دوجناح باری دیگرقصدجان همدیگررا خواهندکرد، عرض مااینست که نه اوضاع امروز اوضاع دیروزیست ونه این جناحها، ازموقعیت وموقف دیروزی برخوردارند . اگراین دوجناح خود درك نکرده باشند، زمان به آن آموخته است که ادامه، مخاصمت ، درفاصله، خیلی کوتاه زمانی، آنهارا به نقطه، غیرقابل برگشتی درلبه، پرتگاه سقوط قرارمیدهد.

این دوجناح جهت دستیابی به اهدافشان بارها جنگ را آزموده اند. وقتی جنگ خونین اول آنانرا به اهداف ازقبل معین شده نرسانید، آنها، قطع امیدنکرده وبرای جنگ دیگری آمادگی گرفتند و پس ازچندی شاهد وقوع جنگ خونین وبی مفهوم دیگری بین آنهابودیم . چرا امروز نگذاریم که پس از آن همه تجارب ناکام جنگی، اینك مفاهمه و توافق رانیز به آزمون بگیرند؟

چرانگذاریم که این بار میدان جنگ، به نفع مذاکره ومفاهمه خالی گردد؟

آیا شکست تجربه، جنگ ، دارای این مفهوم ضمنی ومنطقی نیست که مذاکره وتفاهم کاری ازپیش خواهد برد ؟

این دوجناح بیشترجنگ را آزموده اندوکمتربه مصالحه میدان عمل داده

نجات ملت و کشور ازفاجعه، کنونی ازآنچنان اهمیتی برخوردارهست که راه مصالحه را یك بارنه،بلکه هزارها باردرپیش بگیریم . وقتی بااین نتیجه رسیده ایم که جنگ راه حل نبوده وباید مسئله رابصورت مسالمت آمیزحل کرد ، چراباانجام مذاکره وحصول توافق میان دوجناح متخاصم ومتحاربی که بخش اعظم فاجعه، کنونی ریشه درتخاصم وتجارب آنهادارد ، مخالفت بورزیم؟

اند. نجات ملت وکشور ازفاجعه، کنونی ، ازآنچنان اهمیتی برخوردارهست که راه مصالحه را یك بارنه،بلکه هزارها بار درپیش بگیریم . وقتی بااین نتیجه رسیده ایم که جنگ راه حل نبوده وباید مسئله رابصورت مسالمت آمیزحل کرد، چراباانجام مذاکره، وحصول توافق میان دوجناح متخاصم و متحاربی که بخش اعظم فاجعه، کنونی ریشه درتخاصم وتجارب آنهادارد ، مخالفت بورزیم؟

دیدگاه ودرخواست دیگرمخالفین این پروسه اینست که مسئولین و حتی مجرمین اصلی داخلی درقضیه، کنونی، سران همین دوجناح اند وباید بجای استقبال ازحصول توافق میان آنان، آنانرا به پای میزمحاکمه بکشانیم .

به صاحب وحامیان این دیدگاه باید به عرض رسانید که بالفرض اگر تحلیل شمادرریشه یابی تراژیدی کنونی درست بوده وثابت گردد یاگردیده باشد مسئولین ومجرمین واقعی همین کسان اند، چه مرجع ونیرویی میتواند آنانرا به پای میزمحاکمه بکشاند . اگر درملت مااین توان وجود میداشت، مدتهاقبل علاوه براینکه آنان به پای میزمحاکمه کشانیده شده بودند، شما به جرم تماشاچی ظاهراً بیطرف بودن وبنده نیز به جرم اهمال درافشای حقائق به ملت، بپای دارمحاکمه کشانیده شده بودیم .

طالب جان هم باهمین شعاراحساساتی وبیموقع واردمیدان ولی دردروازه های کابل، تایر پیکپهای هایلوکس شانرا میرمن رااقل یاکدام کس دیگرپنچرکرد .

اصلاً همین شعارهای به محاکمه کشانیدن هابودکه مارا به فلاکت انداخت . هریك ازگروههای متحارب باداعیه، زیبای محاکمه، مجرم وارد میدان گردیده ویالآخره در گل بندماند. آنچه نیازمبرم جامعه، ما درشرایط کنونی است، این نیست که باید کلیی با مقصود راهه پای میزمحاکمه بکشانیم ویااینکه باهمدیگر تصفیه یا تسویه حساب کنیم . نیاز مبرم ارجح ،فوری، اولی وحیاتی جامعه، مااین نیست که برای بکروزید اثبات جرم کنیم .

نیازمبرم ، ارجح ، فوری ، اولی، حیاتی وآنی جامعه، ما خاتمه، جنگ، اوربندسرتاسری و استقرار صلح است . تاصلح درین کشور استقرار نیابد، نه محاکمه، مجرم ممکن است ونه انتخاب زعیم دلخواه .

####

د کوپړیو تجارت

مغموم

په بو ء پاکستاني ورځپاڼه کي مي یو بوږنوونکی خبرولوست چي غوني مي ورسره زیږه شول –بنايي دا زما د زړه کمزوري وي او خبر دومره بوږنوونکی نه وي خو د خبر په اړه چي زما په ذهن کي څه خیالونه تاو راتاو شول هغو زه پسي واخستم او د ویري او هیبت په ډګر کي یې ودرولم .

خبر داسي ؤچي له هند نه په پټه او قاچاقي ډول نیپال ته د انساني کوپړیو تجارت روان دی . دخبر تفصیل کي راغلي وو چي له هند نه یو شمیر قاچاق وړونکي انساني کوپړۍ راټولوي او په پټه ئي د نیپال ښاروټوته رسوي . دغه انساني کوپړۍ په هند کي دوي د دوه سوه کلدارو په شاوخوا کي ترلاسه کوي چي په نیپال کي ئي له لس برابره نه په زیاته بیه خرڅوي – هلته له دغو کوپړیونه د تزئین او آرایش په سامانونوکي کاراخستل کیږي بنایي ځیني به دا دانسان بل کمال ګڼي چي په مرګ هم دخپل همنوع لپاره د ګټي متاع شو ، نوربه دانسان مرګ هسي دهغه ضایع کیدل نه وي بلکي په بله بڼه به د انسان په خدمت کي وي خو په دي شایي ځوك لږ فکروکړي چي له روغ انسان نه د تزئین ترآلاتو پوري له څومره توهین سره مخ کیږي انساني کرامت ئي څو څو ځله تر پښو لاندي کیږي – او آن چي د انسانیت له مقامه را لږ یږي د یوي تجارتي متاع ځاي نیسي ...

په هرصورت ماته داهم مهمه نه ښکاري او څه پروائي نشته ، ځکه چي ځوك د ژوندي انسان شرافت او عزت نه ساتي ، دهغه په کرامت لوبي کوي نو دمړي خو دي سلي ځله ورته معاف وي ترهرڅه پومبي د دي خبر په لوستلو ما د خداي (ج) شکر ادا کړ چي ښه دی نیپال زموږ په ګاونډ کي دی که نیپال زموږ ګاونډي وای – نو څه به کیدل !

ځوك تصور کولي شي که نه !

هغو انسانانوبه د خپلو همنوعو له مړیو سره څه کول چي په ژوندي دوی یو ځل نه په څو ځوځله او په یوه نه په لسو بادار اتو خرڅ کړل.

ځوك چي د ژوند یو انسانانوتجارت کوي ، ژوندي انسانان د خپلو اهدافو په لارکي د قربانۍ د پسونو په څېر ذبحه کوي هغوی به زموږ له مړیو سره څه کوي !!

ماته د ذهن په هنداره کي د لاریو کاروانونه راشي چي دکباړ ا پرځای له انساني ککرونه ډك وي – اوله سرحد نه اوړي ، ماته هغه سوداګر سترګوته ودرېږي چي په اصطلاح بریښونه ئي داسي شخ شخ دریدلي وي ته به وائي همدا اوس د پاڼي پټ له میدان نه فاتح راستانه شوی – یا یې مکناتي راسکور کړی وي – او یا

له تکبیره ترفریاده

په هندي شیبه کي د آمر له غاري راستانه وي او دګروموف لښکرئي ترآمو هغه خوا شړلي وي کاږه وږمیږونه ، سری سترګي او له دنیا ومافیها نه بي خبره او بي پروا !

هغهٔ تجاران او کباړیان ! چي د اوسپنو پرځای په هډیرو پسي ګرځي او له قبرونو نه مړي راباسي ...

زه د ذهن په هنداره هډیرا وینم چي د ټولو قبرونو خاوري اوښتي وي او لوڅ وی د مړیو هډوکي وینم چي د ټولو ککري نه وي او سره پا شلي یوه اوبله خوا پراته وي ، که نیپال زموږګاونډی وي نو داسي به کیدل او سل ځله به کیدل ..په ژوند خو خرڅ شوي وومړي او کوپړۍ به موهم خرڅېدي په ژوند خو افغانان د غو آقاپانو او باداراتو د ژوند دسمون – آرامي او سوکالي مالګه او مرچ وو په مرګ به هم دوي د زینت د سامان برخه کیدل .

ځکه چي څوك په ژوند د چاپه پلورلو پندنه وي .

په ژوند ملنډي پري وهي په مرګ خو به ئي سل ځله پري وهلي شي . چي موږ په ږغو سترګو ورته ګورو او دوي موکله په یوه بادار ! پلوري کله په بل نو دمرګ خو بیا پوښتنه او ګیله له چا ؟

که نیپال زموږ ګاونډي وای نو بل تاوان به موږ او چي که اوس د چا د تخت او تاج په خطر مرو –د چا د کباړ او څه نور ومادي غرضونو په خاطر مرو او مرګ موضمني غوټدي دي که له مرګه پرته چاته خپل مرام ترلاسه شو نو بیا کیدل موهم ممکن دی خوهغه وخت به ډیو ګټیور تجارت په خاطر خامخا وژل کیدو – چي روغ ټانکونه – روغي فابریکي اوسلامت موټر او ماشینونه د اوسپني په خاطر کباړ شول نو انسانان به څه وي چي د کوپړیو د سوداګرۍ په خاطر به نه وژل کیدل زموږ هډیري خو به ټولي لوڅي او یُر دي وي . زموږ ژوندي به هم د همدي ګټي په خاطر وژل کیدل .

ښه دي خداي (ج) مشررحمت دا دي چي نیپال زموږ له هیواد نه د ډیرو غرونو او ځاګونو نه ها خوا دي – په منځ کي زیاتي داسي فاصلي او دروازي پرتي دي چي لا زموږ د کباړ بانو لاري نه دي پري تیښي شوي خو پر دي سریږه اندېښنه لاضرورشته .

یوه لاره لا پاتي ده چي زموږ د مړیو د کوپړیو دکباړ بانو لاس ور رسیدلی شي . هغه دا چي د کابل او ډیلي ترمنځ که ځمکني لاري بندي دي خو هوائي لاري شته او د دي دوارو ښاروټو د واکمنوترمنځ د دوستي تارونه لاغزول کیږي او مظبوطیږي که خداي (ج) مه کړه ، ددي دوستي او ورورۍ ! په راشه درشه کي زموږ د ښارانو سترګي د کوپړیو په دلالانو ولګیږي اوکه ئي ځوك دخپلو خرواروټو ټانکونوټونو د ښتراني په حیث د یوه مهم صادراتي قلم په څېرویولی!؟ نو بیا به څه جږي !؟

او موږ به د خپلو مړیو او ژوندیو کوپړۍ څه ړه ساتو !!

ماشومان د

په غوره داوي چي میندي او دکورنی نورغړي کوشش وکړي چي ټول خطرناك شیان دماشوم څخه لري وساتي .

همداشان موږته خپل چاپیریال کي ډېري داسي کورنۍ لیدلي دي چي دوالدینو دبي پروائي له کبله ماشومان برقي سامان ته چي برق لري لاس وروړي اوپاهم په اوراو جوش اوبوسوځېدلي چي پدي توګه یو شمېر ماشومانو خپل خوږژوندلاسه ورکړی .

تولازمي ده چي دکورنی ټول غړي په تېره بیاوالدین دغي موضوع ته جدي پاملرنه وکړي.

همدارنګه ډېرځلي لیدل شوي چي ماشومان په غوږوکي ځیني شیان ننه باسي لکه تیلی، میخ اوداسي نورشیان چي په دغو حالاتوکي دغوږدپردي دزخمي اوپاهم سوري کیدلوزیات امکان شته . ډېرداسي پیښېږي چي ځیني ماشومان دلوبو په جریان کي په بواویل باندي خاوري شګی اونورګتافات شیندي چي په سترګوپوغوږوکي یې لویږي چي دا دماشومانو لپاره خطرناکه نتایج لري نوپرمیندولازمه ده چي همیشه خپل ماشومان دڅارني لاندي ونیسي .

همداشان موږ په خپله ټولنه کي وینوچي زموږ ماشومان زیاتره په هغوځایونوکي لوبي کوي چي ماحول یې پاك اوصفانه وي، ممکن چي شیشي ، سیمونه ، اغزي، ستني دماشومانوپه پښواویادپښن په نورو برخوکي ننوزي اوپیرامکان لري . چي بوعادي زخم په یوخطرناك مرض عین تیتانوس تبدیل شي چي بیایې علاج هم آسانه نه دی . که څه هم داسي پیښې ناڅاپي منځ ته راځي خوبیاهم علت بې دوالدینو بې پروائي ده

دبنګله دیش پولیسو دحکومت دمخالفو ګوندونو دوه نورمشران هم ونیول

دپولیسو سره په نښتو کي دمخالفینو دوه تنه مړه اوله (۱۰۰) تنو څخه زیات ټپیان شوي دي

ډاکه – دکب ۸ مه :

په ټول بنګلدیش کي دحکومت دمخالفینو لخوانه په لاره اچول شوي اعتصابونه دوام لري .

دنړیوالوخبري منابع په حواله ویل کیږي چي : دبنګله دیش دحکومت درأنسکوروولو پخاطر په دغه هیواد کي دمخالفو ګوندونولخوانه دڅوورځوراهیسي اعتصابونه روان دي او دغو اعتصابونو دبنګلدیش ټول ملك په سراخیستي دي اوددغه هیوادپه ډېرو لویوښارونو کي حالات خراب دي . پرون دبنګلدیش دحکومت پولیسو مخالفینو دارامولو په نیت دهغوي دوه تنه نور مشران هم نیولي دي . دتیري یکشنبې له ورځې راپه دي خوا دبنګلدیش پولیسو دخالده ضیا دحکومت دمخالفینو شپږتنه مشران نیولي دي .

دغه منابع زیاتوي چي : دڅو ورځنیوعمومي اعتصابونو په ترڅ کي پرشمیر مظاهري هم شوي او په ځینو سیمو کي چاودني هم شوي دي .

ویل کیږي چي :دبنګلدیش دپولیسو اودحکومت دمخالفینترمینځ په نښتوکي تراوسه پوري دوه تنه مړه اوله (۱۰۰) تنوڅخه زیات کسان ټپیان شوي دي.

خرطوم ته نږدي دسودان دهوایي کربنی یوی الوتکی سقوط وکړ

خرطوم – دکب ۸ مه :

دسودان دهیواد یوي باروړونکي ترانسپورتي الوتکي خرطوم ته نږدي سقوط وکړ..

نړیوالي خبري منابع دسودان دهیواد دیرح په نوم واتي چي : پرون ددغه هیواد باروړونکي ترانسپورتي ارګولیس دوله الوتکه دخرطوم نه (٤٠) کیلومتره جنوب ته راوغورځېده .

ددغي الوتکي د راغورځېدو علت تراوسه پوري نه دي معلوم خوویل کیږي چي دغي الوتکي له غورځېدو ترمخه اوراخیستي ؤ .

دالوتکي (۷۰) سپرلي اودالوتني عمله په دغه پیښه کي ټول وژل شوي دي .

ویل کیږي چي : دنوموړي الوتکي پیلوټانوله غورځېدوترمخه دخرطوم په هوائي اډه کي دناستي اجازه غوښتي وه اوهوائي اډي هم ورته دناستي اجازه ورکړي وه خوپه ناڅاپي ډول ئي دهوائي اډي سره ئي اړیکي وشلیدلي .

دکورنۍ ارزښتونه په اسلام کې

(په تیریسی)

دا یوڅرګند حقیقت دي چې پاك الله نارینه دښځولپاره اوښځي دنارینه لپاره خلق کړي .

چي دشریك ژوند اودکورني جوړښت اوتشکیل یوه طبیعي غوښتنه اویوه انساني ارتباط ده نودګډ ژوند بنسټ په مرکه یاخواستګاري پیل کیږي .

دمرکي څخه هدف دهلك دکورني لخوا دهغي هیلي اوتمنااظهاردي ، دانجلي کورني ته چي دهلك کورني په خپل ورتګ سره خپله علاقمندي اوخپله ښکاره کړي اوپه دي ترتیب نارینه په خپله دهغي هیلي اوتمنا سره دښځي حیا، عزت ، کرامت اومقام ته په کورني اوټولنه کي ارزښت ورکوي دهلك دکورني لپاره ضروري ده چي دمرکي څخه دمخه دانجلي په هکله پوره څیړنه وکړي ترڅوبیا وروسته له ستونزو اومشکلاتوسره مخامخ نشي عین داچي انجلي دچاپه نامه نه وي اویاپه هغو معیارونوچي دوي یې غواړي برابره نه وي نوهرکله چي پوره معلومات یې پیداکړل اومطمئن شول نوبیا دي دکاني څیړنو اومشورو وروسته په مرکه اقدام وکړي .

که چیري طرفین پدي راضي شي اوغواړي چي یوبل سره دخپلوي اړیکي ټینګي کړي نوداسلام مقدس دین ښځي اونارینه دواړوته داحق ورکړي چي دلزوم په صورت کي یوبل سره وګوري خبري وکړي خویدي شرط چي ددوي دلیدلو اوخبروکولوڅخه صرف دیوبل په هکله پوهیدل اوپیژندل وي نه داچي دالیدل اوخبري کول دلذت اوشهوت په منظوروي اسلامي شریعت دارواکړي که څوك غواړي له کومي ښځي سره نکاح وکړي نودنکاح څخه دمخه دي هغه وګوري که یې خوښه شوله ښه ده اوکه یې خوښه نه شوله نوبیا دي دبلي ښځي په تلاش کي شي همداشان ښځي ته یې هم دااجازه کړي چي نارینه ته دي وګوري ترڅوله واده وروسته بیا پښیمانه نشي .

داسلام سترپیغمبررسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي : یعني دهرکله چي وغوښتله یوچاله تاسوڅخه کومه ښځه نوهیڅ ګناه پري نشته چي هغې ته وګوري کله چي هغه دغوښتني په غرض ګوري که څه هم هغه پوهه نه وي » (مسند احمد)

په بل حدیث شریعت کي داسي فرمایي : یعني « که څوك له تاسوکرمه ښځه دنکاح لپاره غواړي نوکولای شي چي هغي ته وګوري نوداکاردي وکړي (ابوداود)

والدین باید دي ټکي ته متوجه اوسي چي دوي دخپلواولادونوژوره سوانځي مشاورین اوښه لارښوونکي دي . څرنګه چي واده ددوئنودګډ ژوند مسئله ده نومورواوپلار ته ضروري ده چي په هیڅ صورت خپل اولادونه په کورکورانه اواجباري صورت واده کولوته مجبورونه کړي .څنه زمونږ په چاپیریال کي ځیني کورني چي دخپلي وړي کوچني اوډکم عمرلرونکي لوڼي داوبا اواتیا کلنونارینوته چي دزر او زورخاوندان دي په نکاح ورکوي پداسي حال کي چي دغه راز وادونه دمجبوریت له مخي نه بلکه دشوق اوهوس په خاطردي .

نودلته ده چي دانجلي نظراورضایت ته هیڅ اهمیت نه ورکول کیږي .حال داچي داسلام مبارك دین ښځي اونارینه دواړوته داحق ورکړي چي دخپل دژوند شریك په خپله رضا اودوالدینوپه اجازه اودکورني دنوروغړو په موافقه وټاکي .

داچي دپلار موافقه دانجلي دنکاح په هکله شرط ده که نه پدي ارتباط دفقهاوترمنځ اختلاف موجود دي ځیني پدي عقیده دي چي دپلار له رضایت پرته نکاح صحیح نه ده اوځیني نوربیادپلارموافقه شرط نه ګڼي او هغوي چي دپلار رضایت شرط ګڼي پدي نظردي ددي لپاره چي اولادونه یې دعواطفو اواحساساتو لاندي رانشي نویې دپلار موافقه ضروري ده .

خوکه چیري انجلي دنکاح په مسئله کي رضایت ولري اوپلاریې پرته له کوم دلیل څخه بیاهم مخالفت کړي اوخپله موافقه نه ښکاره کړي نوپدي ترتیب ورڅخه داجازي حق اخستل کیدلای شي

په اسلام کي کونډه ښځه په کامل صورت دځان په هکله مختاره ده اوعلت شاید داوي چي دا نسبت پیغلي ته زیاته تجربه لري دنارینوپه هکله که موافقه کوي نوبه صریحي لهجي سره یې باید پخپله موافقه اظهارکړي چي پدي ارتباط حدیث شریف کي داسي فرمایل شوي .

یعني : « بي خاونده ښځه ډیره حقداره ده دځان په هکله له خپل ولي څخه اوپیغله به اجازه کوي دځان په هکله اواجازه یې چپ کیدل دي » (مسلم)

نودواده په هکله دښځي دموافقي اونظرارزښت اوضرورت سپړل شوي دي که چیري کونډه اویاطلاقه شوي وي نوبه صریحي لهجي سره خپله موافقه باید ښکاره کړي خوکه پیغله وي نوبیا پرڅالیه وي نوسکوت یې کافي دي اوودالالت په رضایت کوي .

پدي ارتباط حضرت امیرالمومنین علي بن ابوطالب داسي فرمایي : کله چي زه دخداي درسول مبارك حضورته ددي دګراني لور بي بي فاطمي دغوښتني لپاره ولاړم نورسول الله مبارك وفرمایل چي یاعلي مخکي له تاڅخه هم دفاطمي دغوښتني لپاره خلك راغلي وو اومادهغي نظر غوښتلي وو چي دهغي په څیره کي مي دعدم رضایت آثارلیدلي وو نوځکه مي دهغي نکاح له چاسره ونه کړه نواوس ته منتظراوسه چي زه دهغي نظر ستاپه هکله وغواړم همغه ووچي رسول دخداي له خپله ځایه پورته شو اوبي بي فاطمي ته ورغي اوحضرت علي غوښتنه یې دهغي سره مطرح کړه اویدي هکله ددي نظر وغوښت پدي وخت کي ووچي بي بي فاطمي په خوشحالي سره سرښکته کړاوسکوت یې وکړچي دپیغمبر شان یې په څیره کي دخفګان آثارونه لیدل شول نوسرورکائنات رسول الله مبارك دفاطمي بي بي دغه رضایت لرونکي سکوت ددي رضا وګڼله اوداپاکه بي بي بي حضرت علي ته په نکاح ورکړه .

داسلام مبارك دین څنګه چي دانجلي رضایت په نظرکي نیولي نوهمداشان یې دهلك نظرته هم اهمیت ورکړي چي والدین بایددي ټکي ته متوجه وي چي داجباراوفشارڅخه کاروانخلي اود هلك رضایت هم په نظرکي ونیسي . (نوربیا

نخبه دکورنی او تولنی په چاپیریال

زن در محیط خانواده وجامعه

زنان نامدار تاریخ

بی بی آمنه مادر گرامی پیامبر بزرگ اسلام

سرگذشت مادر گرامی پیغمبربزرگ اسلام به این گونه است . وهب روزی پیش همسرخود رفت وچنین گفت : امروز از جوان شجاع که نامش عبدالله وپسرعبدالمطلب است کارهایی دیدم که سخت به حیرت افتادم گروهی از یهودیان میخواستندازراه نیرنگ خون وی را بریزند که عبدالله حملات ناجوانمردانه آنها رابه تنهائی پاسخ گفت وعده ای ازآنهارابه هلاکت رسانیدمن که جوانی ازاوورشیدتر وزیباترویاکمال ترسراغ ندارم خوب است که نزدپدرش بروی وبه اوپیشنهاد کنی که دخترما آمنه را برای وی نامزدکند شاید خانواده ما به وجود این جوان سعادتمند گردد. همسروهب که هرگزچنین امیدی نداشت وخودرا لایق این نمی دیدکه دامادی چون عبدالله داشته باشند درپاسخ وی چنین گفت : اشراف وروٌسای مکه افتخارمی کنند که اورا به دامادی بپذیرند ولی عبدالمطلب خواسته یکی راقبول نکرده حتی پادشاهان وبزرگان شام وعراق دراینمورد به وی مکاتبه کرده که جوابی رد شنیدند• دراین صورت چه گونه ممکن است که عبدالله دخترماراکه ازمال دنیا چیزی ندارد به همسری قبول کند. اماوهب گفت که ناامید مباش من به واسطه اینکه خبرحمله یهودیان رابه خانواده اش داده ام درنظرآنها احترامی دارم که حدس می زنم آنهابه پاس آن خدمت من پیشنهادم راقبول میکنند . دراین جریان بودکه همسروهب خودرابه خانه عبدالمطلب رسانید اتفاقاً این زمانی بودکه عبدالمطلب به فرزندانش درباره حمله یهودیان صحبت میکرد زن وهب که موقع رامناسب دیده بود درحق عبدالمطلب وفرزندانش دعاکرد که عبدالمطلب نیزوی رادعاکرده ومورد محبت قرارداد وچنین گفت : که همسرت برای ماخدمتی کرد امید است آنچه درتوان دارم اززحمات اوقدردانی و سپاسگذاری کنیم وبه شوهرت بگوآگربه ما حاجتی باشد که برآورده سازیم . زن که دربی این گونه فرصت بود وازخدامیخواست چنین گفت : می خواهیم که اسباب سروروشادی مارافراهم کنید . من میدانم که بزرگان شام وعراق میل دارند عبدالله رابه دامادی قبول نمایند ولی ماهم به علاقه واشتیاق پیشنهادمیکنیم که عبدالله دامادماباشد . اکنون به سوی شماآمده ایم واین را هم میدانم که ازلحاظ ثروت به دیگران نمی رسیم اماامیدواریم که عبدالله این هدیه مارابپذیرد .

